# د اعتماد کموالی : د افغانستان پر سیاست باندی د سیمه ییزو لیدلورو اغیزی

I. لندیز

ډیر افغانان سره له دی چې په تیرو اتو کلونو کی د میلیاردو ډالرو مرستی ورسره وشوی او په سلګونو زرو عسکر وګمارل شول، خو بیا هم د بهرنیو ځواکونو له شتون څخه ناراضی او قهرجن دي. دا ددی ښکارندوی ده چې د لویدیځ عوامو او پالیسی جوړونکو انګیرنه د دوی د موخو او کړنو څخه په افغانستان کی د افغانانو له انګیرنی سره زیاتیدونکی توپیر لري. د لویدیځ عوامو له لیدلوری د نړیوالی ټولنی شتون په افغانستان کی په دی معنی دی چې دولت ټیکاوه ومومی او ترووریزم له ماتی سره مخ شي. لویدیځ پالیسی جوړونکی بیا دی ته لیوالتیا لری چې پر دی نظریه چې طالبان، القاعده او نوری ډلی د ملکی وګړو د مړینی مسوولیت لری تکیه وکړی؛ او نړیوال ځواکونه د افغانستان د ټیکاو او د وضعیت د ښه کولو په موخه دلته دي.

د ۲۰۰۹ کال په وروستیو او ۲۰۱۰ کال کی کومی مرکی چې د پرانیستی ټولنی بنسټ او نا دولتی بنسټونو له خوا د لسګونو کسانو سره شوی دي دا څرګندوی چې افغانان په پر له پسی توګه د نړیوالی ټولنی ناوړه کړنی تر پوښتنی لاندی راولی. د ملکی خلکو وژنه، د شپې حملې ، غلط او بی ځایه بندی کول، د امنیتی وضعیت خراب والی، او د نړیوالو ځواکونو د معافیت انګیرنه ټولی هغه پیښی دی چې نړیوالو ځواکونو ته یی د خشونت ځواک، یرغل کوونکی او حتی په ځینی حالاتو کی په قصدی توګه د زیان رسونکوی ځواک څیره وربښلی ده.

په داسی حال کی چې شمیرنی دا څرګندوی چې د زیاتی برخی ملکی وژنو مسوولیت د مخالفینو په غاړه دی، خو مرکه شویو کسانو نړیوال ځواکونه پر دی پړه وګڼل چې دوی په نیغه توګه کړکیچ (بحران) زیاتوی او که د مخالفینو په کچه که نه وی خو تر هغی لږ هم د ملکی وژنو مسوولیت نلری. زیات شمیر حتی په دی شکمن وو چې نړیوال ځواکونه په نیغه او یا هم پټه توګه له مخالفینو سره مرسته کوي. دا شک په خپل وار سره تر ډیره حده دا بدلون را منځ ته کولای شی چې نړیوالو ځواکونو ته د یرغلګر انځور ورکړي تر هغه چې دوی د افغانستان د ښه والی لپاره وي. په اوسنی مهال کی، ناوړه او د خشونت پیښي که د مخالفینو او یا هم نړیوالو ځواکونو له خوا وي منفی انځورونو ته لاهم زرو ورکوی او د افغانانو پاتی اعتماد او باور هم تر سیوری لاندی راولی.

نړیوال اړخونه اکثراً دا ډول انګیرنی نه منی او ددوی له انده دا شایعات، دسیسی، پوروپاګند او یا هم د ناسمو تحلیلونو پر بنسټ باندی دي. په هر حال، ډیری دا ډول انګیرنی داسی معلومیږی چې د واقعی پالیسیو پر بنسټ وی - که څه هم اکثراً ریښه اخلی له نامستقیمه اثراتو څخه – او یا هم له پوروپاګند یا د معلوماتو له نشتوالی له کبله. ډیری افغانان هغه وخت چې دوی د ملکی وژنو، د شپې حملی کول چاپو، د بندی کولو ښکار شی او یا دا چې د دوی د هیواد د پرمختګ ډیری لړی نښی نښانی لیدل کیږی نو بیا دوی پورتنی پایلی ته رسیږي.

د نړیوالو ځواکونو په اړه شک او د هغوی څخه نارضایتی اکثراً د افغانستان د تاریخ محصول ګڼل کیږی. مبصرین ډیری وخت ددی فرضیی په هکله خبری کوی چې داسی نظریی به د افغانانو د اړیکو برخه وی د بهرنیانو سره، او یا هم د بدیل په توګه داسی نظریی د هغو سیاسی ډلو، قبیلو او یا قومونو له خوا یی ملاتړ کیږی چې د طالبانو سره خواخوږی لري. دا په داسی حال کی ده چې د حساسو او نازکو قومی ابعادو شتون یوه ریښتیا خبره ده او دا د ناسمو انګیرونو تر منځ یو حایل او یا پرده ده. د بیلګی په شان پښتنو د تاریخ په اږدو کی د هغو بهرنیو ځواکونو پر وړاندی چې په جبر او زوروسره راغلی دی د خپل ټاټوبی څخه دفاع کړی ده. د نړیوالو ځواکونو په باب منفی انګیرنه او د نړیوالی ټولنی پر وړاندی شک په لوړه کچه په ټول افغانستان کی شتون لري. ددی څیرنی په لړ کی د پرانیستی ټولنی بنسټ دا وموندل چې مرکه شوی کسان پرته له قومی تړاو، تعلیمی سویه، سیاسی تړاو، او یا د هغوی نږدیوالی د بحران سره د نړیوالو ځواکونو څخه د انګیرنی په اړه کوم د پام وړ بدلون نه لیدل کیږی. د دولت پلوو او یا د لویدیځ نظریو پلویان، او هغه کسان چې هغو سیمو او یا ډلو پوری تړاو لری چې د طالبانو څخه مخکی یی ډیری ګټی تر لاسه کړی هم د نړیوالی ټولنی او په ځانګړی توګه د نړیوالو ځواکونو پر خلاف دریځ لري.

په دی وروستیو کی لویدیځ پالیسی جوړونکو ته دا جوته شوه چې ملکی وژنی، د زندان عملیات، او دی ته ورته نوری کړنی چې افغان وګړو ته زیان رسوی د بی اعتمادی او غصی لامل ګرزی او د افغانستان کامیابی تر

پوښتنې لاندې راولي. د شورش پر ضد په نوي استراتيژۍ کې د افغانانو نارضايتې ته د نړيوالو ځواکونو او افغان دولت پر وړاندې ځواب ويل يوه ضروري او کليدي انديښنه ده. د وروستيو تګلارو له کبله ملکي وژنې را لږ شوې، د زندان وضعيت ښه شوی او د افغانانو د "زړونو او دماغونو" د خپلولو په موخه استراتيژيکه پوهه را پوهه زياته شوې ده. لا هم دا د تګلارې بدلون تر لازمي کچې لږ او ډېر ناوخته دی. د افغانانو د اعتماد او اطمينان د بيرته حاصلولو په موخه هره شونې تګلاره بايد په کار واچول شي تر څو په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې د کړنو مستقيمې يا نامستقيمې اغيزې را لږ او تسکين شي. همدا شان بايد د بحران د تيرو ۹ کلونو بې اعتمادی او ناخوالې را ونغښتل شي.

د دې په رد کولو سره چې د افغانانو انګيرنه له نړيوالې ټولنې څخه يوازې د پوروپاګند او دسيسې له مخې نه ده، پاليسي جوړونکې اکثراً ددې په پوهيدو کې پاتې راځي چې دا منفي انګيرنې ښايي ددوی تګلارې او هڅې په بل ډول واړوي. نړيواله ټولنه ددې لپاره چې په خپلو ډيرو ارزښتناکو تګلارو کې، په ګډون د شورشيانو سره جګړه، د ښې حکومت دارې پياوړتيا او د قانون د تنفيذ، او مصالحې او بيرته يو ځای کيدو ته لاس رسې ومومي د افغانانو اعتماد او مرستې ته اړتيا لري. په تير وخت کې د ملکي وژنو پيښې، د شپې چاپې او د زندان عمليات يوازې افغانان نه دې خوابدې کړي، بلکه د افغانانو ليدلوری ته يې د بهرنيانو پر وړاندې منفي انځور ورکړی، او په افغانستان کې د لنډ او اوږد مهالو تګلارو د نوښتونو پر وړاندې يې باالقوه خنډ جوړ کړی دی.

د افغانانو د انګيرنو او ليدلوري پر وړاندې د نړيوالې ټولنې په سختې مبارزه کې لاندې وړانديزونه کولای شي بهرنيو سياست جوړونکو او پوځي چارواکو ته ددې لاره هواره کړي چې دافغانانو هغه باور او همکاري بيرته ورغوي چې دملکي مرګ ژوبلې، د شپې له مخې تلاشيو، د نيول کېدو عملياتو، نامنيو او د مسووليت د نه منلو له امله له منځه تللې ده.

- دافغانانو په منځ کې د دود شويو داستانونو د اهميت او لاملونو پيژندل، نه دا چې هغه د توطيې د تيوريو، ناوړه تبليغاتو او قبيلوي تعصباتو په نوم رد کړو.
- د نړيوالو ځواکونو لخوا د پوځي تاکتيکونو بيا تصديقول او دوام او د پاليسيو بدلول چې دملکي وګړو د زيانونو دکموالي لامل کېږي او د هغه کسانو لا زيات ملاتړ چې د جګړو پر مهال نيول کېږي.
- د شپې لخوا د مخ په زياتيدونکو تلاشيو بندول چې د وژلو او نيولو د يو ميکانيزم په توګه ورنه کار اخيستل کېږي، د شپې له مخې هر بريد وړاندې له تصويبولو څخه بايد په کره توګه وڅيړل شي، چې دا بريد بايد ولې د شپې له خوا و شي، بل دا چې ولې د شکمن کس د شنډولو له پاره سم دوديز اجرايي قوانين نشته او يا هم ناشونې دي.
- په پراخه توګه د روښوالي له پاره د بدلونونو رامنځ ته کول، د نړيوالو ځواکونو له لورې له افغانانو سره ددناوړه چلند( که پخوانې وي او که اوسنې) په اړوند تورونو د ځواب درلودل. دغه تورونو ته بايد جدي پاملرنه وشي برسيره پر څيړنو بايد له انضباطي لارو هم کار واخيستل شي. وروسته دې پايله په مستقيمه توګه فرد او زيانمن شويو خلکو سره شريکه شي.
- د ځانګړو عملياتو او د شپې له مخې په اړونده تلاشيو او عملياتو کې د ناپوځي ځواکونو کارول له پاره له سياسي پلوه په پراخه توګه د ځواب ورکوونې تمرين.
- له خلکو سره د نړيوالو ځواکونو دنژدې کېدو په موخه د ياغيانو پر ضد په نوي سټراتيژۍ له سره کتنه، څو خلك په رښتني توګه له هغه پراخو ګواښونو چې د ياغيانو له خوا د تاوتريخوالی ډکو کړنو او د نړيوالو ځواکونو  پورې تړلې زيانونواو رامنځته کېدونکوبشري اړتياوو څخه خوندي شي.
- د سيمه ييزو پوځي ډوله ځواکونه په  وسلو سمبالولو، روزنې او واك ورکولو په څېر  طرحو کې له احتياط نه کار اخيستل. سيمه ييزو جګړمارو د ځواکمنيدو هڅو په تير کې ډېر جانبي عوارض لکه؛ د ځواك نه ناوړه ګټه پورته کول، د قومي دښمنيو راپيدا کېدل، په نامستقيم ډول د ياغي ډلوملاتړ او د جګړې له پايښت سره مرسته کول درلود.

سربيره پردې هغه هلته دير نور د پام وړ ګامونه دې چې افغان ټولنې کولای شې ددې موخې لپاره واخلې  چې د جګړې اثرات ددوی پر ټولنې باندې هير شوی نه وی .
نړيواله ټولنې د افغان حکومت سره بايد کار وکړی تر څو چې :

- دایقینی کرای شی چی د پخلاینی هر ډول خبری اتری د انتقالی عدالت د میکانیزم د په بر کی نیولو سره وی یعنی هغه د تیرو شویو جنایتونو اعترافات چی قر بانیان ګاللی دی او افغان تولنی سره مرسته کوی چی مخکنی شکایتونه حواب کری.
- د عامه وګړو د جګړی د قر بانیانو دثبت دفتر پرانیستل ،چی نه یوائې د روانو جګړو د تېپانو شمیره خپره وی بلکه همدا رنګه د مړو لامل او هغو کسانو چی باید ګرم و پیژ ندلای شی هم پکی وی .

یو افغانی نهاد چی د جګړو د ښکیلو ډلو ځخه د خپلواکی حیثیت ولری باید ددی مسوولیت په غاړه ولری.

*　　　*　　　*

دا لنډیز د پرانیستی ټولنی بنسټ (او اس اف) د افغانستان او پاکستان لپاره د سیمه یزی تګلاری نوښت یوه برخه ده. د سیمه یزی تګلاری نوښت ددی لپاره را منځ ته شو تر څو د تګلارو مهمی موضوع ګانی د ملکی وژنو او د بحران اړوند زندانیانو په ګډون په افغانستان او پاکستان کی وارزوي. د پرانیستی ټولنی بنسټ (او اس اف) یو نادولتی بنسټ دی چی د نویو او زغم لرونکی ډموکراسیو په جوړولو کی د هغو دولتونو سره چی د خپلو وګړو په وړاندی د مسوولیت احساس ولری کار کوي. په محلی( سیمیزه) کچه د پرانیستی ټولنی بنسټ (او اس اف) په افغانستان کی یو لړ نوښتونه د عدالت د ښه والی، زده کړی، تولنیزی روغتیا، او خپلواکه رسنیو لپاره په کار اچولی دي.